## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

### اې مسلمانانو، هغه سېکولر ارزښتونه او نظامونه رد کړئ چې زموږ پر لوڼو تېری کوي!

په بنګله دېش کې پر ښځو او ماشومانو د جنسي تيري، ناوړه چلند او ډله ييزو جنسي تيريو د خطرناک ډېروالي موضوع وروسته له هغه ګرمه شوه، کله چې د پلازمينې ډاکې په يو مشهور ښوونځي کې د چمتووالي ټولګي يو زده کوونکی له جنسي تيري وروسته ووژل شو. خلک همدا راز پر تنکيو ځوانانو د تجاوز په اړه اندېښمن دي، ان د دې کړکېچ او وېرېدونکي حالت په جريان کې روڼ اندي خلک په دې مفسد فکر بې لارې کوي. د دې سترې اندېښنې د اصلي لامل پر ځای، دوی خلک پر نورو شيانو بوخت کړي دي. ځکه چې دوی پوهېږي په دې سره د دوی سېکولر باور او ناسم سياستونه افشا او زيانمنېږي. دا روڼ اندي دلته دوه ډوله جرمونه تر سره کوي.له يوې خوا دوی هڅه کوي چې د جنسي تسکين له پلوه متناقض سېکولر ارزښتونه خوندي شي او د ښځو له وقار څخه انکار کوي، چې د ښځو پر وړاندې د هر ډول تاوتريخوالی سرچينه ده. له بلې خوا، دوی هڅه کوي چې د خلکو پاملرنه له رښتيني حل لارې څخه واړوي، يعنې پر اسلامي ارزښتونو بريد کوي.

دا تش په نوم ليبرال مفکرين په ګوته کوي، چې فحشا، پر نشه‌يي توکو روږدي کېدل، ټولنيز تخريب او د کورنۍ کمزورې اړيکې د اوسني ناورين اصلي لاملونه دي. خو دوی دا پوښتنه نه کوي چې ولې زموږ په ټولنه کې ټولنيز او اخلاقي غميزه شته؟ ځواب يې په غربي سېکولر باور لرونکي نظام کې پروت دی، چې موږ پکې اوسو. دا سېکولر نظام له عامه ځايونو څخه د دين لېرې کولو عقيده لري او د پرمختګ او خوښۍ لپاره يې د اندازې واحد مادي ګټه او جنسي رضايت دی. د نن ورځې نړيوال د حاکمې ايډيالوژۍ په توګه په بنګله دېش کې سېکولريزم هم له ډېرې مودې راهيسې د ښځو حقونو او ازادۍ غوښتنه کوي. خو لا هم نه دي توانېدلي چې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی لږ را کم کړي. ښځو ته د جنسي توکي په سترګه ګوري، د دوی ښکلا سوداګريز ارزښت بولي. په سېکولر نظام کې له مېرمنو څخه د سوداګريزو، ټلويزيوني اعلاناتو، بېلبورډونو، فلم جوړونې او مجلو لپاره ګټه اخيستل کېږي.

له بلې خوا، دا ټولنيز او ښوونيز نظام داسې ځوانان روزي چې د ژوند هېڅ رښتينی هدف او د الله سبحانه و تعالی ته د حساب ورکولو حس نه لري. دوی په طبيعي ډول د مادي خواهشاتو او احساساتي قناعت په لټه کې له ښځو سره د جنسي توکو په توګه چلند کوي. په دې توګه، د سېکولرانو غږ د ښځو حق لپاره درېږي او ټولنيز پوهاوی رامنځ ته کوي؛ چې دوی زموږ مېرمنې ځاري. سربېره پر دې، د دې پر ځای چې خلکو ته دا سېکولر باور رد کړي، دا روڼ اندي له دوی څخه غواړي چې موږ دې فاسد سېکولر نظرونه له نېږدې وکار وو. دوی اوس د غرب له لوري

د جنسي پروګرامونو له لارې «جنسي رضايت» ناوړه نظريو ته خلک هڅوي. زموږ تنکيو ځوانانو ته په ښوونځي کې تدريس کېږي، چې جنسي اړيکه طبيعي ده، که چېرته له رضايت سره تر سره شي! د «شخصي ازادۍ» او «رضايت» تر نومونو لاندې پانګوال نظر ان په سېکولر غرب کې د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالي پای ته نه شي رسولای. زنا، فحشا، طلاق او نورې ټولنيزې ستونزې خپروي، چې په عمده ډول پر ښځو اغېزه کوي. نو د حل لارې په توګه د غربي افکارو له لوري دا ډول غميزې وړاندې کول شر دی.

**اې مسلمانانو!** اوس هغه وخت رارسېدلی چې سېکولر نظام رد کړئ، چې زموږ د مېرمنو وقار يې زيانمن کړی دی. د نبوت پر منهج د راشده خلافت د تاسيس لپاره لستوڼي بډ وهئ، چې پر ښځو د هر ډول شر او وحشت دروازې وتړي. زموږ د مېرمنو د وقار ساتنه به يې اساسي پاليسي وي. دا به د پرهېزګارۍ پر اساس د ښځو پر وړاندې ټولنيز سلوک پياوړی کړي، چې د ښځو لپاره د درنښت چاپېريال رامنځ ته کړي. «ښځه وياړ دی، چې بايد ساتنه يې وشي.» [د حزب التحرير د اساسي قانون د خلافت مسودې ۱۱۲مه ماده]. د خلافت دولت به د نارينه او ښځينه وو تر منځ متقابل عمل او همکاري داسې تنظيم کړي چې تاوتريخوالی او اخلاقي فساد به له هغې سرچينې څخه ودرول شي. «د جنسونو بېلوالی اساس ګڼل کېږي، دوی بايد يو ځای سره ونه ګوري، خو د اړتيا په صورت کې، چې شرعي اجاز ورکړل شي، چې نارينه او ښځينه وو ته اجازه ورکوي چې ملاقات وکړي، لکه په سوداګريزو چارو يا حج کې [د حزب التحرير د اساسي قانون د خلافت مسودې ۱۱۳مه ماده]. د ښځو پر وړاندې هر ډول تاوتريخوالي لپاره د اشد مجازاتو (پر مرګ محکومولو) تر څنګ، د ښځو وقار ته په پام سره، د خلافت دولت ان د ښځو د وقار ساتنې لپاره خپل پوځ لېږي.

په نهمه ميلادي پېړۍ کې د عباسي خليفه معتصم باالله د واکمنۍ پر مهال، په اموريه ښار کې د قوي رومن اډې د نيولو لپاره يو لوی پوځ له پلازمېنې بغداد څخه واستول شو چې يوه مسلمانه ښځه وژغوري، چې د روميانو له لوري نيول شوې وه او ناوړه چلند ورسره شوی و. الله سبحانه و تعالی موږ ته اجازه راکوي چې د خلافت د سملاسي راستنېدلو شاهد پاتې شو، چې په رښتيا سره به د ښځو له حقونو څخه دفاع وکړي او هغه عزت او سپېڅلی ژوند به بېرته ورکړي چې دوی يې مستحق دي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**(وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ)**

**ژباړه:** *«مومنان نارينه او مومنانې ښځې، دا ټول د يو بل دوستان دي.»* [توبه: ۷۱]

د حزب التحریر- ولایه بنګله دېش مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۲ هـ.ق کال، د جمادی الثاني ۴مه

۲۰۲۱م کال، د جنوري ۱۷مه

د صدور ګڼه: ۱۴/ ۱۴۴۲